

# د څو ژبو کورنيو ماشومان

# معلوماتي لارښود ليک

رساله

Pashto

# سریزه

دا معلوماتي لارښود لیک (رساله) د هغو لسو پوښتنو په هکله ده، چي مبندي اوپلرونه یې ډیرې وخت د ماشومانو د څو ژبني پرمختک په هکله کوي. سربیره پر دې، دا لارښود لیک (رسالې) د ورکتونونو، ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو د کارکوونکو لپاره هم دی او د ماشومانو د څو ژبني پرمختک په هکله له مېندو او پلرونو سره د خبرو اترو د پیل د ټکي په توګه هم کارول کېدا شي.

د دې معلوماتي لارښود لیک (رساله) بنسټ سویډني رساله، *دوه ژبې یا څو ژبې کورنیو ته ګڼ شمېر مشورې* (*Två språk eller flera – Råd till flerspråkiga familjer*) ده، چې په رینکه بي (Rinkeby) کې د ژبو د څېړنې د انستیتوت له خوا چمتو شوې ده (*[http://modersmal.skolverket.se/](http://modersmal.skolverket.se/)*) او یوه اصلاح شوې نسخه ده. په دې معلوماتي کتابګوتي (رساله) باندې کار شوی او په ناروېژي ښوونځیو او ورکتونونو کې د څو ژبو ماشومانو د حالت لپاره برابر شوی دی.

### څو ژبیتوب (ګڼ ژبیتوب)

په نړۍ کې ډېرې (اکثریت) تولنې په ګڼو ژبو خبرې کوي. په ډېرو ژبو لاس برې (تسلط) هم په انفرادي توګه او هم د تولنې لپاره یوه ارزښتناکه ورتیا ده. ژبه له هویت، تولنیز کولو او کلتور سره نږدې تړاو لري او له همدې کبله د ځوانانو او لویانو د ژوند یوه مهمه جوړوي.

دوه ژبیتوب د ګڼ شمېر مثبتو شیانو سبب ګرځي او ډېرې (اکثریت) هغه کورنۍ، چې په دوه یا زیاتو ژبو خبرې کوي، تصور نشي کولای چې پرته له دې ژبو ژوند وکړي. که چیرې تولنه، ورکتون او ښوونځی د ګڼ ژبنیتوب په اړه مثبت نظر ولري، د ماشومانو څو ژبنی پرمختک پیاوړی کېږي.

### د ګڼو ژبو کورنۍ مختلفې دي

کورنۍ په بېلابېلو ډولونو د دوه یا ګڼو ژبو لرونکې کېدای شي.

- که د مور او پلار څخه یو یا دواړه له ناروېژۍ پرته بله مورنۍ ژبه ولري.
- که مور او پلار مختلفې مورنۍ ژبې ولري او ماشوم له پیل څخه په کور کې یوه یا څو ژبې اوري.
- که مور، پلار یا دواړه په داسې یو هېواد کې لوی شوي وي، چې په کور او ښوونځي کې په بېلابېلو ژبو خبرې کېږي.

په زیات شمېر کورنیو کې د مور او پلار تر څنګ د کورنۍ نور غړي او خپلوان هم وي، چې د ماشومانو په ورځني ژوند کې فعاله ونډه لري او ماشومان په دې توګه څو ژبو ته لاس رسی پیدا کوي.



## ۱ آیا ماشومان کولای شي په ورته وخت کې څو ژبې زده کړي؟

ماشومان کولای شي چې په ورته وخت کې څو ژبې زده کړي. د نړۍ په ډېرو برخو کې عامه ده چې ماشومان له ډېر کوچنیتوب څخه څو ژبې زده کوي. د دې لپاره چې ماشوم په مناسبه توګه څو ژبې زده کړي، اړینه ده چې د ماشوم کورنۍ، وړکتون او ښوونځی په فعاله توګه په دې برخه کې مرسته وکړي. دا اړینه ده چې د ماشوم په چاپېریال کې لویان د ماشوم د څو ژبیتوب د پراختیا ملاتړ وکړي او ژبنۍ ودې ته یې وهڅوي.

که چیرې د لږکیو (اقلیتونو) د ژبو ویونکې کورنۍ خپله مورنۍ ژبه وساتي، نو دوی کولای شي په نورو هېوادونو کې له خپلو خپلوانو او دوستانو سره اړیکې وساتي. که چیرې د داسې کورنیو ماشومان د خپلو مېندو او پلرونو په ژبه تسلط ولري، نو د خپل مور او پلار په کلتوري میراث کې د برخې اخیستلو امکانات یې ډېر وي. دا د ماشوم هویت او تړاو (منسوب والی) پیاوړی کوي.

## ۲ که مور او پلار په کور کې په مورنۍ ژبه خبرې کوي، آیا ماشوم به ناروېژي ژبه زده کړي؟

که چیرې د ماشومانو مورنۍ ژبې ښه وده کړې وي، نو د یوې دویمې ژبې د زده کولو لپاره ښه شرایط لري. مورنۍ او دویمه ژبه یو بل پیاوړې کوي. که ماشوم په مورنۍ ژبه یوه کلمه زده کړې وي، لکه *'gaajaysan'* په سومالیایي، نو د معادل زده کول یې په ناروېژي کې، وږې *'sulten'* آسانېږي.

ټول مېندې او پلرونه هیله لري چې ماشومان یې په ښوونځي کې بریالي اوسي، نو ځکه غواړي چې ماشومان یې ناروېژي وخته زده کړي. د دې مانا دا نه ده، چې کله چې مېندې او پلرونه له ماشوم سره خبرې کوي، نو خپله ژبه دې پرېږدي. مېندې او پلرونه کولای شي ماشومانو ته داسې ځایونو ته په لاس رسي کې مرسته وکړي، چې هلته له ناروېژي ژبې سره مخامخ شي. دا کار په عامه توګه په وړکتون، نږدې چاپېریال او یا د مېندو او پلرونو له ملګرو او دوستانو سره کېږي





## ۳ که چیرې د مور او پلار مورنۍ ژبې بېلې وي، مور او پلار باید له ماشوم سره په کومې ژبې خبرې وکړي؟

په هغو کورنیو کې چې مور او پلار په بېلابېلو (مختلفو) ژبو خبرې کوي، سپارښتنه کېږي چې مور او پلار هر یو په خپله مورنۍ ژبه له ماشوم سره خبرې وکړي. کله چې ټوله کورنۍ یوځای وي، کولای شي له مورنۍ ژبو څخه یوه، ناروېژي یا بله شریکه ژبه، غوره کړي چې دوی ته طبیعي وي. تر ټولو مهمه دا ده، چې مېندې او پلرونه له ماشومانو سره په هغې ژبې خبرې وکړي، چې دوی پرې تر ټولو ښه تسلط ولري. همدارنګه په هغو کورنیو کې هم، چې مور یا پلار په کې په ناروېژي ژبه خبرې کوي او د مور یا پلار مورنۍ ژبه یې بله وي، د ماشوم لپاره ښه ده چې مور او پلار هر یو ورسره په ”خپله “ ژبه خبرې وکړي. په داسې کورنیو کې ډېرې وخت (اکثره وخت) ناروېژي ژبه حاکمه ژبه وي. که مور او پلار غواړي چې ماشوم یې په ډېرو ژبو خبرې وکړي، مهمه ده چې د ماشوم ملاتړ وشي، تر څو دواړه ژبو ته پرمختګ ورکړي.

## ۴ څه کېږي که ماشوم ژبې ګډې کړي؟

دا عادي خبره ده چې هغه ماشوم چې په څو ژبو خبرې کوي، په یوه جمله کې د بېلابېلو ژبو کلمې له یو بل سره ګډوي. د دې لامل دا دی، چې دوی لا تر اوسه نه دي زده کړي چې مختلفې ژبې له یو بل څخه جلا کړي. همدارنګه کېدای شي چې ماشوم د اړتیا پر مهال له بلې ژبې څخه کلمې «په پور واخلي». په دې توګه ماشوم د خپلې ژبې د تولیزې وړتیا څخه ګټه پورته کوي.

دا عامه ده چې دوه ژبي ماشومان د نورو دوه ژبو ماشومانو سره د خبرو پر مهال کله په یوه او کله په بله ژبه خبرې کوي. دوی له دې امکاناتو څخه ګټه پورته کوي تر څو چې یوه باریکي یا احساس څرګند کړي او یا هم د هغو کسانو تر منځ یووالی رامنځ ته کړي، چې په یوه ژبه خبرې کوي. د زیات شمېر یو ژبو لپاره ستونزمنه وي، چې د ژبې په بدلولو رابدلولو پوه شي او یا دا کار ومني. څېړنې ښیې، د د ې لپاره، چې ژبې په ښه توګه واړول شي، د ژبې په هکله زیات پوهاوي ته اړتیا ده او دا کار په دوه ژبنیو خبرو اترو کې طبیعي ده او کار ورکوي.

له دې کبله چې مونږ مختلفې ژبې په مختلفو حالتونو کې کاروو، نو دا معمول دي چې څوژبي ماشومان په مختلفو ساحو او حالتونو کې یوازې په یوه ژبه ښه تسلط لري.د بېلګې په توګه، ماشوم کولای شي هغه څه چې په وړکتون کې تیر شوي وي په ناروېژي ژبه په اسانۍ سره بیان کړي، خو کله چې په کورنۍ پورې د اړوندو شیانو په هکله خبرې کوي، د مورنۍ ژبې کارولو ته لومړیتوب (ترجیح) ورکوي. کله چې ماشوم له مشرانو خپلوانو سره خبرې کوي، مورنۍ ژبه کاروي، خو کله چې له ملګرو او خویندو او ورونو سره خبرې کوي، کله یوه او کله بله ژبه کاروي



## ۵ که ماشوم په کور کې یوازې په نارویژي ژبه ځواب ورکوي، څه باید وشي؟

دا غیر عادي نه ده، چې دوه ژبي ماشومان په ځینو وختونو کې نارویژي ژبې ته لومړیتوب (ترجیح) ورکوي، که څه هم مېندې او پلرونه هڅه کوي چې له دوی سره په مورنۍ ژبه خبرې وکړي. که چیرې مېندې او پلرونه په مورنۍ ژبه او ماشوم په نارویژي ژبه خبرې کوي، مور او پلار کولای شي کوښښ وکړي چې له ماشوم سره مرسته وکړي، تر څو هغه په خپله مورنۍ ژبه سمې کلمې او اصطلاحګانې وکاروي. پرته له دې چې دا په پام کې ونیول شي، چې کومه ژبه کارول کېږي، تر ټولو مهمه له ماشوم سره اړیکه او خبرې اترې کول دي. د دې پر ځای چې دې ته پاملرنه وشي، چې ماشوم د یو څه د ویلو لپاره کومه ژبه غوره کوي، مهمه دا ده، چې د ماشومانو خبرو ته غوږ ونیول شي چې څه وایي. دلته باید له صبر څخه کار واخستل شي. په داسې یو چاپېریال کې د مورنۍ ژبې زده کول وخت ته اړتیا لري، چې هلته د مورنۍ ژبې په پرتله د نارویژي ژبې اغېزه زیاته وي.

د دې لپاره چې ماشوم خو ژبي شي، مهمه ده چې مور او پلار ورسره په مورنۍ ژبه خبرې وکړي. دا ګټوره ده چې د ماشوم په چاپېریال کې له خپلې کورنۍ پرته نور داسې ماشومان او لویان هم شتون ولري، چې له ماشوم سره ګډه مورنۍ ژبه ولري. که څه هم ماشومان په فعاله توګه د مور او پلار په ژبه خبرې نه کوي، ډېرې وخت د دې په پرتله چې څه وایي، په ډېرو خبرو پوهېږي. دا د دې بنسټ جوړوي، چې ماشومان په راتلونکې کې مورنۍ ژبه په فعاله توګه وکاروي.



## ۶ د ماشوم د مورنۍ ژبې د پرمختګ د ملاتړ لپاره څه کېدای شي؟

ترکي ژبي ماشومان په ترکیه کې او نارویژي ماشومان په ناروې کې خپلې مورنۍ ژبې په بېلابېلو حالتونو او د بېلابېلو خلکو سره د اړیکو له لارې زده کوي، لکه په کورنۍ کې، له خپلوانو او دوستانو سره، په وړکتون کې، په ښوونځي کې، په مغازه کې، په کوڅو او په بس کې. ماشومان ټوله ورځ د مورنۍ ژبې د اورېدلو او کارولو امکانات لري. په ناروې کې د لږکیو (اقلیتونو) ګڼ شمېر ماشومان د مورنۍ ژبې د زده کولو لپاره محدود امکانات لري. په لومړي قدم کې ډېری (اکثریت) ماشومان خپله مورنۍ ژبه په کور کې اوري او کاروي. دا کار له مېندو او پلرونو څخه غواړي، چې له وړکتون او ښوونځي سره په ګډه ماشوم د مورنۍ ژبې د زده کړې پرمختګ ته وهڅوي. د ماشوم په چاپېریال کې لویان باید د دې امکانات برابر کړي، چې ماشوم په کورنۍ کې او له کورنۍ څخه د باندې د امکان تر حده په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړي.

په زیات شمېر ښاروالیو کې داسې وړکتونونه شتون لري، چې د ټولو پر مخ پرانیستي وي او مېندې او پلرونه په کې له خپلو ماشومانو سره یو ځای وي. په یادو وړکتونونو کې مېندې او پلرونه کولای شي له نورو مېندو او پلرونو سره لیدنه وکړي او خپل ماشومان له نورو ماشومانو سره یوځای د لوبو او فعالیتونو په حال کې وګوري. په ځینو ښاروالیو کې په کتابتونونو کې په مختلفو ژبو د کیسو ویلو/اورېدلو لپاره وختونه ټاکل شوي وي. همداشان وړکتونونه د ماشومانو او ځوانانو لپاره په ګڼ شمېر ژبو عادي او غږیز کتابونه هم لري، چې دوی یې امانت اخیستلای شي. په دې اړه د خپلې استوګنې په ښاروالۍ کې مالومات وکړئ، چې کوم امکانات په کې شتون لري. سربېره پر دې، مېندې او پلرونه، وړکتونونه او ښوونځي په اوسلو کې د دایچمن کتابتون (Deichmanske bibliotek) د ګنو ژبو له کتابتون څخه ګټه پورته کولای شي (www.dfb.deichman.no). په یاد کتابتون کې د لویانو او ماشومانو لپاره په بېلابېلو ژبو کتابونه شتون لري. ستاسو سیمه ییز کتابتون درسره له یاد کتابتون څخه د کتابونو په ترلاسه کولو کې مرسته کولای شي. په www.morsmal.no انترنت پاڼه کې په بېلابېلو ژبو عادي او غږیز کتابونه او همدارنګه نظمونه، قوانین، سندرې او کیسې شتون لري



## ۷ د ماشوم د نارويژي ژبې د پرمختګ د ملاتړ لپاره څه مرستې

### کېدای شي ؟

وړکتون ته تلل د خو ژبو ماشومانو لپاره د نارويژي ژبې د پرمختګ يوه بنسټيزه لاره ده. د دې تر څنګ د وړکتون، روغتيايي مرکز، ښوونځي او مېندو او پلرونو تر منځ ښه همکاري اړينه ده. د نارويژي ژبې په پرمختګ کې وړکتون او ښوونځی يو لوی مسؤليت لري، خو د مور او پلار رول هم په کې مهم دی. مېندې او پلرونه کولای شي له ماشومانو سره په هغه کار کې مرسته وکړي، چې په وړکتون او ښوونځي کې د ژبې د زده کړې په هکله تر سره کېږي، که څه هم دوی پخپله په نارويژي ژبه دومره ښې خبرې نشي کولای.

وړکتون هغو ماشومانو ته د ژبې د ښه پرمختګ بېلابېل امکانات برابروي، چې د ښوونځي پيلولو په عمرونو کې وي. کله چې ماشومان لوی شي او ښوونځي ته ځي، کيدای شي SFO او بېلابېلې تفريحي بوختياوې لکه، فوټبال، ارکستر، نڅا، کلتوري ښوونځي او ورته شيان د ژبې او ټولنيز پرمختګ لپاره د ملاقات ښه ځايونه وي. مېندې او پلرونه کولای شي خپل ماشومان وهڅوي، چې په يادو فعاليتنو کې برخه واخلي .

وړکتونونه مسؤليت لري، چې د مېندو او پلرونو سره د نږدې همکارۍ له لارې په وړکتون کې د ماشوم د ژبې د پرمختګ لپاره آسانتياوې برابرې کړي. وړکتون د وړکتونونو د نصاب او دندو له مخې مکلفيت لري، چې «د دې ملاتړ وکړي، چې ماشوم خپله مورنۍ ژبه وکاروي او په ورته وخت کې په فعاله توګه کار وکړي، چې په نارويژي ژبه کې د ماشوم وړتيا پياړوې شي» (د ښوونې وزارت 2011:35). مور او پلار د وړکتون له ښوونکي سره په دې اړه خبرې اترې کولای شي، چې ماشوم د ژبې د زده کړې هڅولو ته کومې اړتياوې لري، د بېلګې په توګه، ايا د دې امکانات شتون لري، چې په وړکتون کې يو دوه ژبې مرستندوی (ښوونکی) وګمارل شي او يا وړکتون نور ژبني تعليمي اقدامات پر لاره اچولای شي او که نه.

## ۸ د دې لامل (علت) څه کېدای شي، چې ماشوم په وړکتون کې خبرې نه کوي ؟

هغه ماشومان چې يوه نوې ژبه زده کوي، له دې ژبې سره له بېلابېلو لارو تېرږ لري. په داسې حال کې چې ځينې ماشومان په يوه نوې ژبه د کلمو او جملو په کارولو زيات وخت تيروي، ځيني وخت ان څو مياشتې، ځينې نور ماشومان يې سمدلاسه کاروي. کله چې ماشوم يو داسې وړکتون پيل کړي، چې هلته د ماشوم په مورنۍ ژبه خبرې نه کېږي، کيدای شي دا د ماشوم لپاره يو ستونزمن حالت وي. په داسې وخت کې په وړکتون کې له لويانو سره نږدې همکاري په ځانګړې توګه اړينه ده. که څه هم ماشوم په وړکتون کې له نورو ماشومانو او لويانو سره په نارويژي ژبه خبرې نه کوي، مهمه ده چې پاملرنه وشي، چې ماشوم له نورو لارو خبرې وکړي، د بېلګې په توګه په اشارو، پېښو (تقليد) او د بدن د حرکاتو له لارې. که څه هم ماشوم په نارويژي ژبه څه نه وايي، خو ټول وخت د نوې ژبې په هکله پوهه او مالومات راټولوي. د ځينو ماشومانو د ژبې پرمختګ کېدای شي د مختلفو لاملونو له کبله کمزوری وي او يا په ژبه کې کومه ستونزه ولري. په داسې حالت کې بايد وړکتون او د ماشوم مور او پلار له يو بل سره همکاري وکړي، چې څرنګه کولای شي له ماشوم سره مرسته وکړي، د بېلګې په توکه له وړکتون څخه د باندې مرسته تر لاسه کول، تر څو د ماشوم ژبنی پرمختګ وارزوي او له ماشوم سره په کور او وړکتون کې د اړتيا وړ مرسته وکړي.

که څه هم ماشوم په وړکتون کې له نورو داسې ماشومانو او لويانو سره نه ويني، چې د ده په مورنۍ ژبه خبرې کوي، د ماشوم د څوژبني پرمختګ لپاره ګټوره (مثبته) ده، چې مورنۍ ژبه يې په رسميت وپيژندل شي. کله چې ميندې او پلرونه په وړکتون کې وي او هرکله ورته طبيعي وي، له خپل ماشوم سره په مورنۍ ژبه خبرې وکړي. د وړکتون هغه کارکوونکي، چې د ماشوم په مورنۍ ژبه نه پوهېږي، بايد په ورته وخت کې د ماشوم له مورنۍ ژبې سره مثبته علاقه وښايي، د بېلګې په توګه، د ځينو کلمو، سندرو او قوانينو د زده کولو له لارې. دا د ماشوم د څوژبني پرمختګ لپاره ګټوره ده، چې په وړکتون کې داسې څوک وي، چې د ماشوم په مورنۍ ژبه پوهېږي.



## ۹ آیا په وړکتون کې باید له ماشوم سره په دوه ژبو مرسته وشي ؟

د یو شمېر ماشومانو مورنۍ ژبه له نارویژي پرته بله ژبه وي او نارویژي د دویمې ژبې په توګه په وړکتون کې زده کوي. دا مهمه ده، چې د ماشومانو په خبرو ځان پوه کړل شي او هغوی ته وخت ورکړل شي، چې خپل نظر څرګند کړي. وړکتون باید د ماشومانو ملاتړ وکړي، تر څو خپله مورنۍ ژبه وکاروي او په ورته وخت کې د ماشومانو د نارویژي ژبې د وړتیا د لوړولو لپاره په فعاله توګه کاروکړي. (نصاب 2015:35).

د ماشومانو د مورنۍ ژبې ملاتړ له بېلابېلو لارو کېدای شي، پرته له دې چې دا په پام کې ونیول شي، چې د وړکتون کارکوونکي د ماشوم په مورنۍ ژبه پوهېږي او که نه، خو د ګڼ شمېر ماشومانو لپاره مهمه ده چې په وړکتون کې په دوه و ژبو مرسته ترلاسه کړي. په وړکتون کې دوه ژبي کارکوونکي (پرسونل) ماشومانو او د ماشومانو مېندو او پلرونو ته د لا زیات خوندیتوب لپاره مرسته کولای شي او د کور او وړکتون تر منځ د اړیکو وسیله کېدای شي. له داسې یو کارکوونکي سره یوځای، چې د ماشوم له مورنۍ ژبې سره بلد وي، ماشوم کولای شي په خبرو پوه شي او په وړکتون کې نور ماشومانو او لویان په خپلو خبرو پوه کړي. په دې توګه ماشوم د خپلې مورنۍ ژبې د پرمختګ لپاره ښه فرصت تر لاسه کوي او په ورته وخت کې د نارویژي ژبې د پرمختګ لپاره مرسته ترلاسه کوي.

ټول هغه وړکتونونه، چې د لږکيو (اقلیتونو) ژبو ماشومان په کې وي، کولای شي د هغې مالي مرستې غوښتنه وکړي، چې د اقلیتونو د هغو ماشومانو لپاره ځانګړې شوې ده، چې عمرونه یې د ښوونځي د پیلولو وي، تر څو د یادو ماشومانو د ژبې د لا ښه کولو لپاره مرسته وشي.

(Tilskudd til tiltak for å bedre språkforståelsen blant minoritetsspråklige barn i førskolealder

یاده مالي مرستې د نورو شیانو سربېره، د یو دوه ژبي کارکوونکي د ګمارلو لپاره کارول کېدای شي، چې له ماشوم سره د دوه ژبو په پرمختګ کې مرسته وکړي. په دې هکله لا زیات مالومات په لاندې انټرنټ پاڼه کې ولولئ:

## ۱۰ کله چې ماشوم ښوونځی پیلوي

د زیات شمېر ماشومانو او مېندو او پلرونو لپاره له وړکتون څخه ښوونځي ته تلل یو لوی بدلون وي. ښاروالیو ته سپارښتنه کېږي، چې د دې بدلون لپاره د همکارۍ جلا کړنلاره جوړه کړي او وړکتونونه باید په خپل کلني پلان کې له وړکتون څخه ښوونځي ته د لېږد پلانونو ته ځای ورکړي. په دې هکله مېندو او پلرونو ته به وړکتون یا ښاروالۍ کې مالومات ورکول کېږي.

د لږکیو (اقلیتونو) د ژبو ماشومانو پر وړاندې د ښوونځي د مکلفیتونو په هکله باید په ځانګړې توګه د زده کړې د قانون § 2.8 ماده په پام کې ونیول شي .

8-2 § د ژبنی اقلیتونو زده کوونکو لپاره ځانګړې زده کړه

د لومړنیو (ابتدائیه) او منځنیو (متوسطه) ښوونځیو هغه زده کووونکي، چې مورنۍ ژبه یې له نارویژي او سامي پرته بله کومه ژبه وي، تر هغې پورې د نارویژي ژبې د ځانګړې زده کړې حق لري، چې په نارویژي ژبه کې په پوره اندازه وړتیا ولري او وکولای شي د ښوونځي عادي درسونه تعقیب کړي. داسې زده کوونکي د اړتیا پر مهال د مورنۍ ژبې د زده کړې، په مضمونونو کې په دوه ژبو د زده کړې او یا د دې دواړو حق هم لري .

د مورنۍ ژبې زده کړه د زده کوونکي له ښوونځي پرته په بل ښوونځي کې هم تر سره کېدای شي.

که چیرې د مورنۍ ژبې او په مضمونونو کې په دوه و ژبو زده کړه د ښوونځي د کارکوونکو لخوا ورکول کېدای نشي، نو ښاروالۍ باید د امکان تر حده د زده کوونکي له شرایطو سره سم د کوم بل ډول زده کړې آسانتیاوې برابره کړي.

مخکې له دې چې د ځانګړې زده کړې په هکله پرېکړه وشي، ښاروالۍ باید په نارویژي ژبه کې د زده کوونکي د وړتیا په هکله مالومات راټول کړي. ورته مالومات باید د زده کړې په ترڅ کې هم د هغو زده کوونکو په هکله راټول شي، چې د مقرراتو پر بنسټ ورته د ژبې ځانګړې زده کړه ورکول کېږي، تر څو وارزول شي، چې زده کوونکي په نارویژي ژبه کې پوره وړتیا لري، چې د ښوونځي عادي درسونه تعقیب کړي.

## د ځینو لغاتونو په اړه توضیحات

دویمه ژبه: هغه ژبه، چې ماشوم یې د خپلې مورنۍ ژبې تر څنګ په طبیعي توګه په خپل چاپېریال کې زده کوي.

د ډېره کیو (اکثریت) ژبه: هغه ژبه چې په یو هېواد کې پرې ډېره کې (اکثریت) خبرې کوي. په ناروې کې نارویژې د اکثریت ژبه ده.

د لږکیو (اقیلت) ژبه: هغه ژبې چې په یو هېواد کې پرې یوه برخه وګړي خبرې کوي. په ناروې کې اصلي ژبې لکه، جنوبي سامي، لوله سامي، شمالي سامي او د اقلیتونو ملي ژبې لکه، کوین. سربېره پر دې، ځینې وګړي د کډوالو په ژبو، لکه پولنډي، سومالیایي، عربي، ترکي، ویتنامي، تیګرینیا او داسې نورو باندې خبرې کوي .

مورنۍ ژبه: زیات شمېر خلک وایي چې د یو چا مورنۍ ژبه هغه ده، چې لومړی یې زده کوي، هغه ژبه چې خوک پرې تر ټولو ښه پوهېږي یا هغه ژبه چې خوک یې هغه خپل هویت ګڼي. ځینې دا هم وایي چې دوی زیاتې مورنۍ ژبې لري او همدا څو ژبیتوب یې مورنۍ ژبه ده.

څو ژبیتوب: دا اصطلاح د دوه یا ګڼ ژبیتوب لپاره کارول کېږي؛ یانې ماشوم د مورنۍ ژبې تر څنګ په نورو ژبو هم تسلط لري.

## دولتي اداري اسناد

د وړکتونونو قانون

http://www.lovdata.no/all/nl-20050617-064.html

د وړکتونونو نصاب او دندې

http://www.udir.no/Barnehage/Rammeplan/

د زده کړې (پوهنې) قانون

http://www.lovdata.no/all/nl-19980717-061.html

## د ګڼ ژبیتوب په هکله رسالې


Gjervan, Marit (red.) 2006:

په وړکتونونو کې د ژبنې او کلتوري بېلابېلوالي (تنوع) په هکله رساله. د پوهنې وزارت

Høigård, Anne; Mjør, Ingeborg og Hoel, Trude 2009:

په وړکتونونو کې ژبنی چاپېریال او ژبنی تحریک

Mjelve, Astrid Øygarden 2002:

Hør på maken.په وړکتون کې په دوه ژبو مرسته. د ماشومانو او کورنیو د چارو وزارت

Nasjonalt senter for flerkulturell opplæring (NAFO) 2010:

د سرچینو رساله — په وړکتون کې ګڼ ژبنی کار. د پوهنې وزارت.


## اړونده انترنت پاڼې

هغه کسان چې په وړکتونونو او ښوونځیو کې د ګڼ ژبنۍ زده کړې په هکله مشورو او لارښوونو د تر لاسه کولو هیله لري، کولای شي د ګڼ کلتوریزه زده کړې لپاره د ملي مرکز (NAFO) انترنت پاڼې ته ورشي.

www.hioa.no/nafo

همدارنګه یاد مرکز (NAFO) Tema morsmål www.morsmal.no انترنت پاڼه هم چلوي. په دې پاڼه کې د وړکتونونو او ښوونځیو لپاره په مختلفو ژبو د زده کړې سرچینې، کتابونه، غږیز کتابونه، سندرې او کیسې شتون لري.

د پوهنې ریاست د ښوونځیو او وړکتونونو لپاره انترنت پاڼې لري. په یادو پاڼو کې قوانین، نصابونه، د زده کړې پلانونه، لارښوونې او داسې نور مواد شتون لري.

www.udir.no

د لومړنیو او منځنیو ښوونځیولپاره د مېندو او پلرونو شورا (FUG) او د وړکتونونو لپاره د مېندو او پلرونو شورا (FUB) د هغو مېندو او پلرونو لپاره انترنت پاڼې لري، چې ماشومان یې په ښوونځیو او وړکتونونو کې دي.

http://www.fug.no/ http://www.fubhg.no/

د ترومسو په پوهنتون کې د ډېرې ژبې د ډېرو لپاره (Flere språk for flere) انترنت پاڼه هغو کورنیو ته مشورې او مالومات وړاندې کوي، چې په څو ژبو خبرې کوي .

http://site.uit.no/flerespraaktilflere/


د ګڼ کلتوریزه زده کړې ملي مرکز

Høgskolen i Oslo og Akershus

پته :

Wergelandsveien 27

پوستي پته:

Pb. 4 St. Olavs plass, 0130 Oslo

د ټلیفون شمېره: ۲۲۴۵۲۲۸۲

فکس شمېره: ۲۲۴۵۲۱۰۵

برېښنالیک :

E-post: nafo@hioa.no

انترنت پاڼه:

[www.hio.no/nafo](http://www.hio.no/nafo)

**Nasjonalt senter for flerkulturell opplæring**
Høgskolen i Oslo og Akershus Besøksadresse:
Wergelandsveien 27 Postadresse: Pb. 4 St.
Olavs plass, 0130 Oslo

Telefon: +47 22 45 22 82
Faks: +47 22 45 21 05
E-post: nafo@hioa.no
www.hio.no/nafo